# د ځوانانو ټلوالي
# په برلين كي



Landes
Jugendring
Berlin

# د ځوانانو ټلوالې څه ته وايي؟

د ځوانانو په ټولنو کې ځوانان سره راټولیږي. هلته دوی په ګډه سره د نورو ځوانانو د پاره وړاندېینې چمتو کوي. په دې کې د بېلګې په توګه د رخصتیو سفرونه، چکروهل، ورکشاپونه او ډېر نور ورته شیان.
د ځوانانو په اتحادیو کې ماشومان او ځوانان له نورو ځوانانو سره په شریکه خپل وزګار وخت تیروي.

د ځوانانو ټلوالې دا ځانګړتیا لري، چې ماشومان او ځوانان پخپله پرېکړه کوي، چې څه وکړي.
دوی په خپله وړادیینې فکر کوي او بیا یې عملي کوي. د ځوانانو په ټلوالو کې هغه ځوانان سره یوځای شوي، چې له ورته شیانو او چارو سره مینه لري. دوی په ګډه د نورو انسانانو د پاره کار کوي.

ده هغوی سره د شریک کارکولو له کبله دې ته اړه نشته، چې څوک د هغه غړیتوب ولري.



# د ځوانانو ټلوالې هغه ځایونه دي، چېرته چې ماشومان او ځوانان

- ← پخپله ځانونه تنظیموی
- ← پخپله خوښه سره کارکوي
- ← خپل وزګار وخت پخپله سمبالوي
- ← په جمهوری توګه خوښه کوي
- ← دلته زده کوي، چې خپلې خوښې څرګندې کړي
- ← که دوی‌اوغواړی ځانونه په سیاسی او ټولنیزو چارو کی شامل کولی شی.

# د ځوانانو ټلوالې

# کومې چارې سر ته رسوي؟

د ځوانانو ټلوالې ټول کال د ماشومانو او ځوانانو د پاره وړاندیینې چمتو کوي:

- ← دوی د ماشومانو او ځوانانو د ډلو پالنه کوي.
- ← دوی د ماشومانو او ځوانانو د پاره سفر برابروي.
- ← دوی د ځوانانو مرکزونه، کلپونه او یا د ځوانانو کافي ګانې لري. هلته ماشومان او ځوانان کولی شي سره راټول شي او یوبل وپېژني.
- ← دوی ځوانانو ته زده کړه ورکوي.
- ← دوی ډول ډول کلتورونه او رواجونه سره یوځای کوي.
- ← دوی په بهر کې له نورو ځوانانو سره ګوري.
- ← دوی سیاسي چارو کې برخه اخلي.
- ← دوی د چاپېریال ساتنې د پاره کارکوي.
- ← دوی کلتوري کارونه کوي.
- ← دوی سپورتي پیشنهادونه لري.
- ← دوی سیمینارونه او د زده کړې کارونه وړاندې کوي.

**مثالونه په بل مخ کې دي.**





# له مهاجرو ځوانانو سره ښاري باغداري (Urban Gardening)

باغداران ملګري کيږي. د باغدارانو اړيکې سره ټينګول. دا فکر د برلين د ځوانانو ټلوالې بی-یو-ان-ډی یوګنډ برلین (BUNDjugend Berlin) کړی او په Zehlendorf کې يې د ځوانو مهاجرانو سره يوه دUrban Gardening پروژه پيل کړه. هلته ځوانان په شريکه سره ځمکې جوړوي او ترکاري پکې کري. اصلي موخه يې د خپلې هستوګنځۍ سمبالتيا او يو له بل سره ليدنه کتنه ده.

د برلین ځوانان په ګڼ شمېر کلتورونو کې لوییږي او هغه په خبل ژوندونو کی شاملیږ. برلین د ځوانانو د ټلوالېبرلین د ځوانانو دټلوالې ډي-جي-او ریګنبوګن ( djo-Regenbogen Berlin) د Meinungsmacher.inپروژه په ډاګه کوي، چې زموږ ټولنه څرنګه ډول ډول پراختیا مومي. د رسنیو په کمپونو او اکاډمي ګانو کې رنګه او ډول ډول ویډیوګانې، انځورونه او یا یوه ورځپاڼه، زموږ په ښار کې د ډول ډول او توپیرلرونکو ځوانانو د تاریخ او نکلونو په هکله جوړیږي.

## مفکوري جوړوونکي
## Meinungsmacher.in







## د ماشومانو د مشغولا کمپونه

له ښار څخه وزه او نورو پېښو ته مخ کړه: تر دې شعار لاندې په برلین کې د ځوانانو (بشر دوسته) بشردوست په نامه ډلې لخوا د ۷ تر ۱۲ کلنو ماشومانو د پاره د مشغولا کمپونه جوړیږي. د هغوی ځانګړیتا: د بې وزله او یا د مهاجرو سره د بسپنې اخیستونکو کورنیو ماشومان، کولی شي وړیا په سفر کې برخه واخلي.




## سیاستمداران د ځوان لیدلورې سره

د "U28 – Die Zukunft lacht„ له شعار سره ټلواله غواړي چې د آلمان کاتولیک سیاست مداره ځوانان په دې قانع کړي، چې خپلو سیاسي پریکړو ته د ماشومانو او ځوانانو په سترګو وګوري. سیاستمداران باید دا فکر وکړي، چې د دوی پریکړې پر ځوانو انسانانو باندې څه ډول اغېزې لري.

د پلټ په نامه د شمالي سمندرګي د ټاپو په Dünen نومي ځای په منځ کې هر کال د خېمو په یوه ډګر کې ماشومان د ماشومانو جمهوریت په نامه خپل یو جمهوریت جوړوي. ماشومان د رخصتیو خپل پروګرام پلان کوي او بیا یې عملي کوي.
برسېره پر هغه دلته د وزګار وخت د پاره ډېرې وړاندیېنې شته: سپورت په ساحل او سمندرګي کې، د اوبو په سمندر کې ګرزېدنه، د کباب ماښام او ډېر داسې نور.
د (ای-ډبلیو-او)ده اربایت ولپارت Arbeiterwohlfahrt (AWO) په نامه د ده هیواد ده ځوانانو کار Landesjugendwerks د ډلې لخوا وړاندېينه.



## په سیلټ کې د ماشومانو جمهوریت



# د ځوانانو د وزګار وخت تېرولو ځایونه

ماشومان او ځوانان کولی شي خپل وزګار وخت د ځوانانو په کلپونو او د ځوانانو په مرکزونو کې تېر کړي.

ځوانان کولی شي د جرمن د ویښ ځوانانو یا پیغلو (BDP) د ټلوالې د ځوانانو په مرکزLUKE کې سره راټول شي، په ګډه سره موسیقي واوري، پینګ پانګ او یا بیلارد لوبې وکوي. برسېره پر دې ګڼ شمېر ډلییزې وړاندېینې شته، د بېلګې په توګه فټبال، نڅا، پخلی او کورنیو دندو مرسته. یو د آواز سټډیو هم لري.

د فتوکوټه، د غړسټډیو او د بایسکل ورکشاپ یو څو هغه مثالونه دي چې د برلین د کوچنیانوکړی د ځوانانو مرکز Betonia یې وړاندې کوي. طبعاً چې دلته یوه پرانستې سیمه هم شته، په کومه کې چې کوچنیان او ځوانان سره راټولیږي او له غرمې وروسته ورځ سره تېروي.

پر دې دواړو مثالونو برسېره په برلین کې نور ډېر د ځوانانو کلبونه شته.
هغوی په لاندې انټرنیټي پاڼه کې کتلای شئ:
.https://jup.berlin/location_map



# د ځوانانو کومې ټلوالې شته؟

دا ټولنې شته

- ← مذهبي ټلوالې (د بېلګې په توګه، مسلمان ځوانان، پروټستانټ ځوانان، د جرمني د کاتولیک ځوانانو ټولنه یا د علوي ځوانانو ټولنه)
- ← سپورتي ځوانان
- ← د مرستندویه ټولنو لخوا د ځوانانو ټلوالې (د مثال په توګه د تخنیکي مرستو د ځوانانو ټولنه، د اطفائیې د ځوانانو او یا د سره صلیب د ځوانانو ټولنې).
- ← د ویښ ځوانانو یا پیغلو ټلوالې
- ← د ځوانان ټولنې چې د چاپېریال او طبیعت ساتنې په لاره چې خدمت کوي (لکه BUNDjugendغونډې).
- ← د ځوانانو ټلوالې، چې تر څه وړاندې نړیوال / نړیوال کلتوري چارې سر ته رسوي (لکه djo-Regenbogen Berlin یا د اورپایي ځوانانو خوځښت)
- ← د ځوانانو انسان پالنیزه یا سیاسي ټلوالې (لکه Die Falken، د جرمن سوسیالستي ځوانان، ځوان بشرپالونکي، ځوان دموکراتان، ځوان چپیان او یا طبیعت پلوه ځوانان).



طبيعي ده چې د دې ترځنګ نورې ډېرې مينه والې ډلې شته، چې د ځوانانو د ټلوالو لخوا يې استازيتوب کيږي:

د ځوانانو انټرنېټي شبکه Lambda د ځوانانو يوه ټلواله ده، چې په برلينن او براندنبورګ کښې د لواطيانو، همجنس بازه ښځو، (*LSBTIQ) bi-, trans, Inter ځوانانو په پلوۍ کار کوي.

ځوانه رسنۍ د هغو ځوانانو د پاره يوه ټولنه ده، چې له رسنيو سره سروکار لري. يو بل مثال Amaro Foro دئ، د برلين د جټانو لخوا د جټانو او غيرجټانو يا KOMCIWAN د پاره د ځوانانو يوه ټلواله، يوه د کردي کوچنيانو او ځوانانو ټلواله.

په برلين کې د ځوانانو د ټلوالو په هکله نورمعلومات د Landesjugendring Berlin په ويبپاڼه کې کتلی شئ: www.ljrberlin.de.

په برلين کې د ځوانانو ايالتي کړۍ کې د برلين د ځوانانو ټلوالې سره راټولې شوې. تر اوسه پورې د ځوانانو ۳۳ ټلوالې د برلين د ايالتي ځوانانو په کړۍ کې غړيتوب لري.





# کوم انسانان دي، چې د ځوانانو په ټلوالو کې ځوانانو ته کار کوي؟

زیاتره کسان ځوانانو ته په فخري ډول کار کوي. په تېره بیا د ځوانانو په ټلوالو کې هغه ځوانان دي، چې له ډېرو کالونو راپدېخوا په ټلوالو کې کار کوي.

نور کسان، چې د ځوانانو په کار لګیا دي، د دې کار د پاره روزل شوي. اصلاً دوی د هغه تحصیل کړی او یا یې په روزنه کې زده کړه کړېده. د اصلي کارمندانو تر څنګ زیاتره هغه کسان هم دې ټلوالو ته کارکوي، چې اجره اخلي.

هغه کسان، چې په ټلوالو کې کار کوي، ځای پرځای ده هر څه غم خوري. ماشومان او نوي ځوانان کولی شي په آزاده توګه هلته ورشي او په وړاندېینو کې برخه واخلي.

ځوانانو په ډلوالو کې زیاتره کارکوونکو په ښوونو کې زده کړې دي، چې سرې له کوچنیانو او نووځوانانو سره څه ډول چال چلند کوي. دا ښوونه د ځوانانو د ګڼ شمېر ډلوالو لخوا ورکول کیږي: .Die Juleica-Schulung

Juleica د Jugendleiter_innen-Card لنډیز دئ. Juleica هغه ځوک تر لاسه کولی شي، چې په یوې ٤٠ ساعته روزنیزه او حقوقي زده کړه کې یې برخه اخیستې وي، یو د لومړیو مرستو کورس یې لوستی وي او د ځوانانو په یوې ډلواله کې فخري کار کوي.





# د ځوانانو ټلوالې له کوم ځای څخه پیسې ترلاسه کوي؟

ځوانان د هغو وړاندېینو حق لري، چې د دوی د خوښې وي او پخپله یې سمبالولی شي.
نو ځکه د ځوانانو هغه ټلوالې، چې ځوانان پکې راټولیږي، د دولت لخوا پیسې ترلاسه کوي.

نو د ځوانانو په ټلوالو کې کارکونه یو قانوني بنسټ لري. هغه د ټولنیز اصول په آټمه برخه Sozialgesetzbuch VIII راوړل شوي.

له دې نه پرته د ځوانانو ټلوالې د خپلو کارونو د پاره چندې اخلي. په یو شمېر ټلوالو کې د هغه برخوال د غړیتوب حق ورکوي. ځینې وړاندېینې لکه د رخصیتو په ورخو کې په لګو پیسو دي.
د ځوانانو دېرې ټلوالې تخفیف هم ورکوي.

خو د ځوانانو په ټلوالو کې دېرې زیاتې وړاندېینې وړیا دي – او په منظم ترتیب سره ترسره کیږي!

خپروونکی:

Landesjugendring Berlin e. V.
Obentrautstraße 57 | 10963 Berlin
030 818 86 100 | info@ljrberlin.de
www.ljrberlin.de
landesjugendring.berlin

مسئول (i. S. d. P.): Tilmann Weickmann
لیکنه: Jaqueline Kauka
جوړونه او بڼه ورکونه: WEBERSUPIRAN.berlin
چاپ: trigger.medien.gmbh

© Landesjugendring Berlin e. V. 2017

د انځورونو په هکله معلومات: © Tim Lüddemann/LJW der AWO Berlin:
د پاکټ پر مخ په ۸ پاڼه، © BDP Berlin: ۱ پاڼه، © BUNDjugend Berlin: ۲ پاڼه،
© meinungsmacher.in/djo-Regenbogen Berlin: ۴ پاڼه،
© junge Humanist_innen Berlin: ۵ پاڼه،© BDKJ: ۶۶ پاڼه،
© Jugendwerk der AWO Württemberg (CC-by-sa-3.0): ۷ پاڼه،
© Tim Lüddemann/LJW der AWO Berlin: د پاکټ پر مخ په ۸ پاڼه،
© LJR Berlin: ۱۱،۱۲،۱۳ پاڼې، © Marion Hunger: ۱۵ پاڼه

دا پاڼه د برلین د ایالتي ځوانانو د "Vom FÜR zum MIT„ نومې پروژې په چوکاټ کې جوړه شوې. ملاتړ يې کيږي

Bundesministerium
für Familie, Senioren, Frauen
und Jugend

# برخه واخله!

له څه سره مينه لرې؟ ښکاره ده چې په برلين کې داسې يوه ټلواله شته، چېرته چې
له ځوانانو سره کتلی شې، کوم چې له هم هغه څه سره مينه لري، چې ته يې ورسره لرې!

د خپلو وړاندېينو په هکله د ځوانانو ټلوالې په خپلو ويب پاڼو کې، په Facebook کې،
او هم د برلين د ځوانانو کړی په خپلو جنترۍ کې معلومات ورکوي.

که غواړې ده ځوانانو ده ټولنو ده وړاندېينو څخه ګټه تر لاسه کړې، ده غړيتوب وړيا نلری.

په لاندې ويب پاڼو کې کتلی شئ، چې د ځوانانو کومې ټلوالې په برلين کې شته:
http://www.ljrberlin.de/landesjugendring/mitglieder
http://www.ljrberlin.de/jugendmigrationsbeirat

ته کولی شې په مستقيمه توګه سره هم له موږ څخه وپوښتې!
ټلفون را وکوه او يا برېښناليک راوليکه!

030 818 86 100

info@ljrberlin.de